# د هرات يو مؤرخ او سفير

په نهمه هجري پېړۍ کښې هرات د خراساني تيموريانو پايتخت سو او په منځنۍ آسيا کښې يو لوی او تکړه مرکزي سلطنت جوړ سو، چې ټول خراسان يعنی اوسنۍ افغانستان شرقاً تر آباسينده او غرباً د اوسني ايران تر پايه او شمالاً تر سيحونه پکښې شامل وُ، او ددې لوی آسيائي سلطنت سياسي او کلتوري مرکز هم دغه زموږ هرات وُ.

د هرات تيموريان ټول په خراساني ثقافت کښې روزل سوي او خورا هنر پروره پادشاهان وو. ددوي په سعيه او همت په دغه وخت کښې هرات د آسيا د هنري رنسانس يو درخشان مرکز وُ، او د هرات دربار د پوهانو، هنرمندانو، سياسيونو، روحانيونو مجمع سو.

په دې دوره کښې موږ ډېر ليکوال، شاعران، مؤرخان او مؤلفان پېژنو، چي ښه او مفيد کتابونه ئې موږ ته را پرېښي دي، امير علی شېرنوائي ـ مولانا جامي ـ کاشفي ددې عصر رجال دي، چي تر اوسه ئې هم موږ د فکر او ادبي او علمي خدمتونو مرهون يو. په دغه وخت کښې يوسمرقندی عالم مولانا جلال الدين اسحاق په هرات کښې د

شاهرخ د لښکر قاضي او امام وُ، او دده په کور کښي په ۸۱۶ هـ يـو زوی وزېږېدئ، چي وروسته په کمال الدين عبدالرزاق بن اسحاق سمرقندي مشهور سو، او کله چي دده پلار مولانا اسحاق په ۸۴۱ هـ کال وفات سو، نو عبدالرزاق د خپل پلار پـر ځـای کښېنوسـت، او د هـرات د مـدنيت پرور لوی پادشاه شاهرخ په ملازمت کښي داخل سو.

کمال الدين عبدالرزاق د هرات په دربار کښي د علـم ـ سياسـت ـ ليکوالی او پوهي په برکت ډېر ښه موقع وموند، او د عمر پـر ۲۵ کـال ئې د مولانا عضدالدين ايجي د اسم او حرف پر رساله باندي يوه شـرحه وليکله او هغه ئې د سلطان شاهرخ حضور ته وړاندي کړه.

دی د خپل عصر عالم او قاضي او مؤرخ خو وُ، مگر په سياست هـم ښه پوهېدئ. نو ځکه په (۸۴۵ هـ) کال دی د شاهرخ له درباره په سفارت هندوستان ته ولېږل سو، چي د هرات او بيجانگر تر منځ سياسي روابـط قايم کړي، او دغه دوه درباره سره ونښلوی. کمـال الـدين عبـدالرزاق درې کاله په دغه سفارتي سفر کښي تېر کړل چي ددغه پر زحمته سـفر احوال ده پخپله ليکلئ دئ.

پنځه کاله بعد په ۸۵۰ هـ کال بيا دی د شاهرخ له خوا څخه د گيلان په سفارت واستول سو، خو په همدغه کال شاهرخ وفات سو، او پس له دې هم عبدالرزاق د خپـل عمـر تـر آخـره پـوري د هـرات د تيمـوري شاهانو په دربار کښي ملازم وُ، څو چي پـه ۸۶۷ هـ پـه هـرات کښـي د شاهرخ د خانقاه شيخ مقرر سو، او دا يوه لويه علمي او روحـاني مرتبـه وه چي عبدالرزاق وگټله، او پر دغه منصب باندي تر خپلـه وفاتـه ۸۸۷ هـ پوري په هرات کښي پاته سو. مولانـا عبـدالرزاق دغـه د فـراغ دوره بېکاره نه کړه تېره، او له ۸۷۲ هـ تر ۸۷۵ هـ پوري ئې په درې کاله کښي د تيموريانو يو مفصل تاريخ د "مطلع سعدين او مجمع بحـرين" پـه نامـه

ژ کیښ، چې دوه غټ جلدونه لري، د لومړي ټوک بیان د ابو سعید بهادر خان له ولادته څخه په ۷۰۴ هـ کښې شورو کیږي، او د تیمور تر مرگه ۸۰۷ هـ پوري وقایع لیکي. دوهم ټوک ئې تر ۸۷۵ هـ پوري را رسیږي، چې ټوله دا غونډ کتاب د (۶۸) کالو تاریخ دئ.

مطلع سعدین زموږ د وطن د تیموریانو د پادشاهۍ او د هرات د سیاسي او کلتوري مرکزیت یو خورا مفید او گټور تاریخ دئ، چې اکثر سیاسي او اجتماعي اوضاع په دقت سره ثبتوي، ددې عصر رجال راښئي، او انشاء ئې هم روانه او سلیسه ده، لکه وصاف او ځیني نور متکلف لیکوال گرانه انشا پردازي نه کوي او یو معتدل ثقه لیکوال دئ.

د مطلع سعدین کامله نسخه تر اوسه نه ده چاپ سوې ډیري خطي نسخې ئې د دنیا په کتابخانو کښې سته، او یو څو نسخې ئې په کابل کښې هم میندل کیږي، او یوه برخه ئې په دوه ټوکه کښې له لاهوره مرحوم پروفیسر محمد شفیع ۲۷ کاله دمخه چاپ کړې وه. چې د افغانستان د تاریخ او جغرافیا او اجتماعي احوالو په لیکلو کښې هر کله د مؤرخانو په درد خوري او هم د هرات د لوی تیموري سلطنت محروسات په ایران او ماوراء النهر کښې راښئي.

د دې کتاب خورا ښې او مفیدي برخي هغه دي چې هرات ته د خارجي دولتو د سفیرانو راتگ یا د سیاسي میئتونو لیږل نورو مملکتو : هند خطا ایران او مصر ته بیانوي، او په دغو برخو کښې د هغه وخت د سیاسي جریان ښه معلومات ضبط سوي دي، چې یو وخت د افغانستان د سیاسي تاریخ په لیکنه کښې لکه تاریخ بیهقي په درد خوري.

مثلاً په ۸۱۵ هـ د دای منگ خان له خوا څخه چې د غربي چین پادشاه و، د شاهرخ دربار ته په هرات کښې ایلچیان راغلل، او شاهي مکتبوبونه ئې راوړل، چې عبدالرزاق ددغو خطو متن او جوابونه ئې

عيناً په خپل کتاب کښې رانقلوي، چې ټول سياسي سندونه ګنل کيږي، او په دې کتاب کښې خوندي سوي دي. او ددغو مکتوبو څخه داسي ښکاري چي شاهرخ هم دمخه خپل سفيران د سوغاتو سره د چين دربار ته استولي وه. او د چين دغه ايلچيان دوچيون اى او دانګ چنګ نوميدل، او شاهرخ ددغو مکتوبو جواب د خپل سفير محمد بخشي په وسيله د چين دربار ته ليږلي وُ، چې پخپل مکتوب کښې د چين بادشاه اسلام ته رابللئ او د تجارت د ډيروالي او آسانۍ لپاره ئې خواهش کړئ وُ. د مطلع سعدين له دغه ځايه دا هم ښکاري چي په دغه وخت کښې د هرات په دربار کښې د روم سفير محمد قرامان او ګرمسېر ايلچي پير ک هم موجود وه.

په ۸۲۰ بيا د خطا سفيران دري تنه د درو سوو سپرو سره هرات ته راغلل، او دهرات سفير امير اردشير خطا ته ولېږل سو، او په ۸۲۲ هـ بيرته د خطا له سفيرانو سره هرات ته راغئ، او دلته بيا عبدالرزاق د هغو مکتوبو نقلونه راوړي چي د خطا له درباره را استول سوي وه.

په ۸۲۵ ه کال بيا د هرات له درباره شادى خواجه خطا ته په سفارت واستول سو، چي غياث الدين نقاش تې امر کړئ وُ، ميرزا بايسنغردې نقاش ته امر کړئ وُ چي د خپل سفر روزنامچه په تفصيل وليکي، او عبدالرزاق هم دغه مفصله د سفر روزنامچه په خپل کتاب کښي را نقل کړېده، چي د لومړي ټوک پنځوس مخه ئې نيولي دي، او دا برخه خورا مهمه او خوږه او د لوستلو وړ ده، ځکه د خپل سفر او ليدنو کتنو احوال ئې مفصل پکښي کښيلي دي.

عبدالرزاق په ۸۴۵ هـ کال د شاهرخ له درباره د هندوستان په سفارت مقرر سو، او ده د کرمان له خوا د هرموز بندر ته سفر وکئ، او د بحر د لاري د هندوستان کاليکوت ته ورسېدئ، او له دغه ځايه

بیجانگر ته ولاړ، دا سیاسي سفر دوه کاله اوږد سو، او عبدالرزاق په دې کتاب کښې د خپل سفر احوال په تفصیل سره لیکي چې د کتاب ډېره دلچسپه او خوږه برخه ده. کله چې دی بیرته له باکنور له خوا په بحر کښې سفر کوي، او د هرموز بندر ته رارسیږي او بیا د کرمان او صحرای لوت پر خوا د ۸۴۸ هـ په پای کښې هرات ته راځي، نو د ځانه سره د هند سفیران خواجه محمد او خواجه جمال الدین هم راولي، او د شاهرخ دربار ته ئې وړاندي کوي.

د شاهرخ له درباره څو واره هراتي سفیران مصر تـه استول سوي وه، چې احوال ئې عبدالرزاق په خپل کتاب کښي څو ځایه د دغو سفیرانو د استولو په کال کښي کښلي دي. دی د هرات د تیموریانو لوی سلطنت د "مملکت خراسان" په نامه یادوي چې له دریای سنده تر عراق او پارسه پوري اوږد وُ.

د عبدالرزاق انشا یو معتدله او متوسطه لیکنه ده، کله چې د هندوستان د سفر تفصل لیکي نو داسي ښکاري لکه د اوسني عصر سیاحان چې خپل احوال د جزویاتو سره شرح کوي، د سفر لاري او زحمتونه، د خلکو اوضاع او د ژوندانه لاري چاري او حتی کله د دوی کره وړه هم تصویر کوي، نو له دې جهته دده نوشتې د مؤرخانو د مختلفو مطلبونو لپاره د تحقیق په لاره کښي ګټوري دي. او لکه پروفیسور براون چې د فارسي ادبیاتو د تاریخ په دریم ټوک کښي وایي: مطلع سعدین د خورا ډېر اهمیت وړ کتاب دئ، چې باید په محققانه ډول طبع سي، او ځکه چې مؤلف ئې اکثر وقایع پخپلو سترګو لیدلي دي، یا پخپله په واقعو کښي عملاً شامل وُ، نو دده د بیان صحت او ثقت دواړه د منلو وړ دي. رشتیا هم دابده که دغه کتاب نه وای نو به اوس د هرات د خراساني لوی سلطنت له اکثرو اطلاعاتو څخه محروم وو.

ځكه چي په نورو كتابو كښي دغسي مفصل وقايع نه دي بيان سوي دلته دامناسبه ښكاري چي د عبدالرزاق هراتي ليكوال او مؤرخ د نوشتې يوه نمونه دده د هندوستان له سفرنامې څخه راواخلم دی ليكي:

"و حاوی این اوراق عبدالرزاق که در اواخر ذی الحجه بشهر بیجانگر رسیده بود، و در وثاقی بغایت عالی که در هرات بجای بالای دروازه ملک باشد مهر جمهور خلایق، بموجب تعیین اقامت نمود، و چند روز از کوفت راه بر آسود و هلال محرم ۸۴۷ ه دران شهر معظم و منزل ضلال جمال فرخ فال نمود، روزی قاصدان از درگاه پادشاه آمدند، و فقیر آخر روز بدرگاه رفت، و پنج سر اسپ خوب و دو تقو زکه خاو اطلس پیش برد، و پادشاه در چهل ستونی بعظمت تمام نشسته بود، و بر یمین و یسار حلقه بسته. پادشاه قبای اطلس زیتونی در برو از مروارید های آبدار، بل در های شاهوار، که جوهری عقل قیمت آن دشوار داند، گردن بند ساخته. سبز رنگ لاغر اندام مایل به بلندي و بغایت جوان بود، برعارض غبار خطی و بر ذقن هیچ نه، صورتی بغیت مطبوع. فقیر را پیش او بردند و سرفرود آورد و او التفات نموده، نزدیک خود نشاند و نشان همایون راستانده سپرد و کلمه چي (۱) را گفت: خاطر ما خوش گشت که پادشاه بزرگ برای ما ایلچی فرستاد، و چون فقیر ازگرمی و تعدد جامه ها غرق بسیار کرده بود پادشاه کرم و مرحمت نمود، وبادزنه (۲) خطای که در دست داشت عنایت فرمود، و طبقي آوردند درو دسته تنبول (۳) و بستهٔ پانصد فلم (۴) و مقدار بیست مثقال کافور جودانه واجازت یافته و ثاق آمد. "علوفه هر روز دو گوسفند و چهار جفت مرغ و پنج من برنج ویک من روغن و یک من شکر ... زر آورده بودند، و هم چنینې هر روز می آوردند، و هفته دو نوبت آخر روز می طلبید و احوال خاقان سعید می پرسید، و هر

نوبت بسته فنم و دسته تنبول و چند مثقال کافور می آوردند، و کلمه چی رامیگفت : پادشاهان شما ایلچی را دعـوت دهنـد و خـوان نهنـد، چون ما و شما طعام یکدیگر نمی خوریم. ع : این بسته زر دعوت ایلچي باشد. (ص ۸۰۸ مطلع سعدین).(۵)

## لمن لیکونه

۱. کلمه چی : شاید مراد ترجمان باشد.

۲. بادنه : پکه

۳. تنبول در هندی پان و برگ درختی است که بدهان رنگ سرخ دهد.

۴. در اصل فنم طبع شده که صحیح آن فلم است بدو فتحه و آن مسکوک کوچک نقره بود در هند جنوبی که فرنگیان فنم گفتند و ۱۲ فلم روپیه بود و کلمه دراوید یست (قاموس هندی)

۵. آریانا مجله، ۱۳٤۸ کال، ٤مه گڼه، ٥٦ او ٥۹ مخونه.